ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**عمران خان**

پی ایچ ڈی (پشتو) ریسرچ سکالر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ۔

**ڈاکٹر کرن سِنین**

اسسٹنٹ پروفیسر، پختونخوا مطالعاتی مرکز، باچاخان یونیورسٹی چارسدہ۔

# د جرګې اهمیت

**Imran Khan ***
PhD (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda.
**Dr Kiran Seeneen**
Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda.
***Corresponding Authors:** alamdawar022@gmail.com

## The Importance of Jirga

Jirga has always been given priority in Pashtun belt and is quite effective in the historical perspectives of Pashtun in which Pashtun elder resolve complicated issues, problems and disputes without any conflict, contradiction and discrimination on the basis of their experiences and expertise. Jirga is the best platform where important and major decisions are made that is accepted by all Pashtuns. Jirga is one of the effective institutions in which calture, social and territorial disputes are positively discussed and resolved with justice and sincerity. No body can violate and deny the decisions made in the Jirga. Therefore, Jirga may be functional in this modern era of 2025.

**Key Words:** *Jirga, the sacred dignity of Pashtuns, the new form of Jirga (judiciary), Jirga today and yesterday.*

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08



جرګه د پښتنو هغه قامي غونډه ده چې هر کله په پښتون اولس کښې وړې يا لويې ستونزې او مسلې رامنځته شي نو پښتانۀ د جرګې د لارې د غه ستونزې او مسلې هواروي او د يوې وړې ستونزې نه راواخله د قامي باچا يا د اولسمشر ټاکلو پورې د پښتنو دغه ځانګړے کار د جرګې په اساس سر ته رسي. په اريانا دائرة المعارف ( Aryana Encyclopedia) کښې د جرګې په حقله ليکي چې :

> " جرګه د پښتو ژبې او د ترکی ژبې ګڼه کلمه ده ، په فرهنګ او سخن فرهنګ انند راج او فرهنګ غياث اللغات کښې زياتوي چې جرګه د ترکی ژبې کلمه ده چې په يوۀ ځاے د راغونډېدلو ، کښېناستلو او حلقې سازولو معنا ورکوي. په پښتو تشريحي لغت کښې جرګه د اولسي پېنډال ، اولسي ټولے ، د مشورې مجلس او د قامي غونډې په معنا کښې راځي چې د فيصلې صلاحيت هم لري او حکم يې هم د منلو وړ وي . په عامه توګه په پښتني کلتور کښې د جرګې غونډه به هله اطلاقېږي چې مقصد يې د قبيلوي ستونزې حل کول وي ، په خاصه توګه جرګه هغې غونډې ته هم وئيل کېږي چې د قبيلو يا خېلونو مشران په کښې راغونډېږي او لويې لويې قامي کشالې او ستونزې هواروي ." (۱)

مُحَمَّد اکبر کرکر هغه ليکوال دے چې د جرګه په اړه يې يو وړوکے بلکې بنيادي کتاب ليکلے دے ، هغوي د جرګه په اړه داسې خپل خيالات څرګندوي :

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08

" جرګه د پښتونولۍ ( د پښتني ټولنې د ژوند د طريقو سستم ) د اغېزناکو کارونو د پاره د ټولو نه مهمه اداره ده . دا په اصل کښې د قبيلوي مشرانو ناستې دې چې د خپلې قبيلې په داخلي ستونزو ، شخړو او لانجو باندې غور کوي او پس له هغې پرېکړې کوي . د جرګې غړي د ټبرونو يا د قبيلې غوره شوي مشران يا استازي دي چې د خپل ټبر يا د قبيلې په استازيتوب په جرګه کښې ګډون کوي (۲) ".

په لیک بنه داسې بل مهم قانون نشته لکه څنګه چې جرګه ده ، جرګه د شخړو د هوارولو پرېکړه کوي ، هغه هم د خبرو اترو ، دليلونو او د مشاهدو په ذريعه ترسره کيږي . د جرګې غړي د اسلامي شريعت او د پښتني رواج هم پلوي وي او د ستونزي هوارولو په وخت دواړو ډلو ته دا اختيار ورکول کېږي چې دوي د خپلې ستونزې پرېکړه د شريعت يا د رواج سره غواړي؟ (۳)

د اروا ښاد عطايي د جرګې په حقله يو کوتلے مضمون ليکلے دے چې څو کرښې يې دلته وړاندې کول مهم ګڼم او ډاکټر صادق ژړک د دغې ياد شوي مضمون په حقله زياتوي چې کومه قامي ناسته چې د فيصلې کولو صلاحيت لري او حکم يې هم د قبلولو وړ وي نو په عامه توګه د جرګې اصطلاح نه مراد هغه غونډه وي کومه چې د قبيلو د شخړو د هوارولو د پاره سازېږي ، دلته د جرګې او مرکې مفهوم يوشان دے خو په خاصه توګه جرګه هغه لويه غونډه ده چې په هغې کښې د قبيلو يا د خېلونو منلي شوي مشران راغونډېږي

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08

او د لویو لویو قامي ستونزو او شخړو په اړه خبرې کوي او فیصلې کوي ، نرخیان چې د جرګې د قوانینو نه خبر وي هغه هم پکښې شرکت کوي ، جرګه په مهمو ځایونو کښې او یا په مشهورو زیارتونو کښې راجوړولې شي ، جرګه په ښکاره توګه جوړېږي او د جرګې مشران او نور عام وګړي هم په یوه داسې ځای کښېني چې د مشرانو خبري په سمه توګه اورېدلې شي. (۴)

د جرګې په بابله استاد سنګر مل زیاتوي چې جرګه په پښتون سوسائټي کښې هغې مهمې غونډې ته وئیل شي چې د کومې اولسي مشورې یا قانون د ټینګ ساتلو د پاره راجوړېږي ، د قبیلو ترمنځه د شخړو د حل لارې لټوي . د پښتنو د ژوند طور طریقې د پاره وخت په وخت اصول ایښودل شوي دي چې په دغو اصولو کښې د جرګې مهم رول لوبولے دے ، دغه قوانین او اصول ټول پښتون اولس مني او که څوک ترېنه په شا کېږي نو ټول اولس ورته د شک په نظر ګوري . یاده دې وي چې زړو مشرانو خپلې خارجي او داخلي ستونزې او شخړې ( سیاست او واقعات ) د جرګې د لارې هوارولې او سمولې چې اوس هم پښتنه ټولنه کښې دغه قانون لیدل کېږي . (۵)

د جرګې د اهمیت په اړه ډېرو لیکوالانو خپل ځانګړي خیالات ، تجربې او مشاهدې څرګندې کړې دي چې په هغوي کښې بهرني او ځایي لیکوالان هم د یادولو وړ دي . د پښتو ځانګړے شاعر ، لوے لیکوال او محقق صدیق الله رښتین د جرګې د ارزښت په حقله زیاتوي چې :

> " په پښتني دود دستور کښې جرګې او مرکې ډېر اوچت ځاے لري . د جرګې پرېکړه او فیصله په پښتنه سیمه کښې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08

ماخذ تحقیقی مجلہ

> د يوۀ قانون او حکم حېثيت لري او هر څوک چې د جرګې د حکم نه په شا شي نو دوي پړ او ملامت ګڼل کېږي ، دوي ته لازمه سزا هم ورکول کېږي . که چېرې د دوو تنو يا اولس په مېنځ کښې يوه غټه مسله شخړه او د عوئ پېښه شي نو د دغې لانجې د غوڅولو د پاره د کلي يا اولس له خوا قامي جرګه رابللې کيږي ، کله چې جرګه راجوړه شي نو د دواړو خواوو ( فريقين ) نه واک اختيار واخلي او په مېنځ کښې يې يوه مچلګه هم کېږدي ." (۶)

جرګه که يوخوا د ټولنې د مشرانو له خوا راجوړولې شي نو بل خوا د ځايي انتظامي واکمنو له خوا هم راجوړولې شي چې مقصد يې هم يوشان ليدل کېږي ، هسې خو په ټولنيزه توګه جرګه د اجتماعي کشالو، لانجو او شخړو د هوارولو جوګه پاتې شوې ده خو کله کله د واکمنو د لاس وهنو د لاسه په نظر شوې هم ده او خپل هدف ته رسېدلې نۀ ده لکه احسان داوړ په خپل کتاب " وزیرستان کا ثقافتی ورثہ " کښې ورته داسې اشاره کړې ده :

> "جرگہ اور مرا کہ پشتون سوسائٹی میں بہت ہی اہم رواجی اور ثقافتی اقدار ہیں اور قبائلی کلچر میں اس کو ایک ستون کی حیثیت حاصل رہی ہے۔ عام لفظوں میں گو یا یہ دونوں اصطلاحات ساتھ ساتھ استعمال ہوتے ہیں لیکن حقیقت میں دونوں مختلف قسم کے معانی رکھتے ہیں اور دونوں کے مقاصد بھی الگ اور منفرد ہوتے ہیں۔ ہم اگر اس کی سادہ الفاظوں میں وضاحت کریں تو کہہ سکتے ہیں کہ جرگہ دو یا دو سے بڑھ کر زیادہ مشران / اکابرین کے کسی خاص کیس

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08



کے فیصلے کیلئے بلائے گئے اجلاس / غونڈے کو کہہ سکتے ہیں اور ایف سی ار (کالہ قانون) کی رو سے جرگہ دو یا دو سے زیادہ مشران / اکابرین جس کی تقرری پولیٹیکل انتظامیہ کسی خاص کیس کے فیصلہ سنانے کے لیے مقرر کریں، جرگہ کہلاتی ہے۔ گویا ایف سی ار (کالہ قانون) کی رو سے جرگے کے اراکین یا مشران کا انتخاب خالصتاً پولیٹیکل ایجنٹ ہی کے ذریعے ہوتا ہے لیکن جرگے کا یہ تصور بہت ہی جدید اور محدود ہے کیونکہ قبائلی سوسائٹی میں پولیٹیکل ایجنٹ یا پولیٹیکل انتظامیہ کی تقرری اور قبائلی طرزِ زندگی میں اس کی مداخلت ایک صدی کی کہانی ہے جبکہ جرگے کا ادارہ قبائلی عوام میں خاص طور پر پشتون قوم میں بالعموم ہزاروں سال کی تاریخ رکھتی ہے اس لئے کچھ لوگ جرگے کو ایف سی ار قانون کیساتھ جوڑتے ہیں جو کہ یہ بہت ہی غلط تصور ہے اور یہ صرف اس لئے پروان چڑھا ہے کہ عام لوگوں کو قبائلی سوسائٹی کی تاریخ سے لاعلمی ہی اس کی بڑی وجہ بتائی گئی ہے۔ قبائلی معاشرے میں جب کوئی تنازعہ / مسئلہ ایسا ہو کہ جس میں فریقین اپنی مرضی سے یا دیگر مشران کی مدد سے اس کے حل تلاش کرنے کے لیے رواج سے باخبر مشران / اکابرین کو منتخب کریں تو اسے جرگہ ہی کہتے ہیں اور اگر کوئی قومی معاملہ یا مسئلہ ہے اور پوری قوم کے اکابرین ایک جگہ مل بیٹھ کر کسی خاص مسئلے پر غور و فکر کریں اور ایک فیصلے پر پہنچنے کے لئے بیٹھ کر سوچا جائے تو اس کو اس موجودہ جدید دور میں گرینڈ جرگہ بھی کہتے ہیں۔ دوسرے الفاظ میں جرگہ عام قبائلی اصطلاح میں ایسے ادارے کا نام ہے جہاں مشکل مسائل / تنازعات کے ختم کرنے کے لئے قوم کے سفید ریش مشران اپس میں مل بیٹھ کر صلاح و مشورہ کریں اور مسئلے کا کوئی مناسب اور کوئی اچھا سا حل نکالنے کی بھرپور کوشش کریں۔ جرگہ جنگ و جدل میں لگے ہوئے دو فریقین کے درمیان حالات واقعات کو سلجھانے کے لیے بھی بلایا جاتا ہے اس لیے ایسے جرگے عام طور پر کوئی بلاتا نہیں بلکہ قوم یا کسی قبیلے کے سفید ریش یعنی اکابرین خود ہی کسی واقعے کو سنجیدگی سے دیکھ کر اجلاس منعقد کرتے ہیں اور فریقین کو جنگ و جدل سے دور

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08



رکھنے کی کوشش کرتے ہیں گویا کہ اس طرح کا جرگہ ایک قسم کا سپریم کونسل ہوتا ہے جو اپنے واک اور اختیار کو بروئے کار لاتے ہوئے امن و امان کے قیام میں اپنا کلیدی کردار ادا کرتا ہے۔" (۷)

جرګه د پښتنو په سپېڅلو قدرونو کښې هغه ښهٔ قدر دے چې د ګڼو مسئلو او د ستونزو حل راوباسي. جرګه د يو څو غړو او مشرانو نه جوړه شوې وي چې عموما په کښې د کلي سپين ږيري، رښتيني اکابرين او باعزته مشران شامل وي چې په هر ځاے کښې د خپل اخلاص په بنياد د حق فيصله کوي. د دوي خبرې هم منلې شي او چې کوم شرطونه هم مخې ته ږدي نو په هغې باندې پوره پوره عمل هم کېږي. د غه مشران/ سپين روبي د جرګې په ذريعه د چم ګاونډ، لارو کوڅو، زمکو پټو وېش او د خلقو کورنۍ ستونزې، دښمنۍ او تربګنۍ صلحې/جوړې کوي او د ختمولو کوشش يې کوي خو په قبايلي ټولنو کښې د دغو جرګو کردار کله کله ډېر سخت او ناوړه هم کېدے شي ځکه چې د يوهٔ کس په ګناه د هغوي ټول کور ړنګول يا اوسوځول شي او يا د کلي نه اوشړل شي چې د غې عمل ته د تنقيص ګوته نيول کېږي او په خاصه توګه د جرګې پرېکړې ته هم د شک په نظر کتل کېږي.

هسې که وکتل شي چې جرګه داسې سپېڅلے قدر دے چې د نړۍ نورو قامونو هم جرګه په څهٔ نه څهٔ شکل کښې خپله کړې ده او پوره قانوني لاره يې ورکړې ده، لکه د ډاکټر اباسين يوسفزي د دې خبرې نه څوک هم انکار نهٔ شي کولے، هغوي زياتوي چې:

" جرګه د پښتون قام هغه سپېڅلے قدر دے چې ډېر زيات مشهور او د نړۍ نور

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08
ماخذ تحقیقی مجلہ

قامونه يې هم د اثر نه پاتې شوي نۀ دي . پښتون افغان اولس چې څومره زوړ او لرغونے تاريخ لري ، دومره د جرګې قدامت هم يقيني دے . په دې خبره کښې هېڅ مبالغه نۀ شته چې په جديد دور کښې د جرګې متبادله اداره عدالت دے چې د غه تصور د جرګې نه اخيستے شوے دے . مونږ په ډاګه وئيلے شو ، که د پښتون قام د جرګې قدر نۀ لرلے نو نن به د نړی په مخ د عدالت تصور هم موجود نۀ وۀ ځکه وئيلے شو چې د غه کرېډېټ پښتون قام ته بيا په تېره تېره د جرګې نومې قدر ته ځي ولې چې دنيا يې د يوې نوې مثبتې ادارې سره مخ کړه او د خلقو په ذهنونو کښې يې د ستونزو او شخړو پرامنه فضا کښې د حل کولو سوال راپورته کړو چې هم د عام او خاص اولس په ګټه تمامېږي او هم د جرمونو لارې نيسي ." (۸)

* جرګه او جديد اصلاحات:

۱- لکه څنګه چې مونږ ته پته ده چې د عدالت تصور د جرګې نه اخيستے شوے دے او د عدالت د پاره باقاعده د لاء ډګرى لازمي ګرځولې شوې ده ، مطلب دا چې څوک د قانون پوهه ونۀ لري نو هغه د عدالت کارکن ، وکيل يا جج وغېره نۀ شي جوړېدے نو په جرګه کښې هم دا شان نوي اصطلاحات راوړل پکار دي چې د جرګې اهميت په ځاے ټينګ وساتي. (۹)

۲ــــ د عدالت د پاره باقاعده د يوې ادارې انتخاب شوے دے چې په هغې کښې د قانون اعلىٰ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08



اعلیٰ و کیلان او ګڼ شمېر نور ډ ګري هو لډرز فارغوي نو دا رنګ د جرګې د پاره هم پلان پکار دے چې د جرګې د پوهې او اصولو په اړه درس ورکوي. (۱۰)

۳ــ لکه څنګه چې په عدالت کښې د وکیل ، بریسټر او جج نه بغېر کار نۀ شي تر لاسه کولے او دغه کارکنان یې د عدالت بنیادي ډانچې دي نو دا رنګ د جرګې د پاره هم داسې پیاوړي او تکړه پوهه مشران ، سپین ږیري اکابرین ټاکل پکار دي چې په هغوي کښې د هېڅ قسمه غلطۍ ګنجایش نۀ وي او د اولس او چم ګاونډ د پاره د ګټې راوړلو سبب ګرځېدے شي. (۱۱)

۴ــ د عدالتي کاروائۍ د پاره په باقاعده توګه د بیلډنګ یا ودانۍ شتون لري ځکه چې هلته ټولې قانوني کارویانې ښۀ پرامنه فضا کښې تر سره کېږي اود کارکنانو د پاره هم د ناستې پاستې ځاے موجود وي خو دا رنګ پرسکونه فضا د جرګې د پاره هم پکار دے چې د جرګې سرکرده مشران اکابرین ، د قبیلو فریقین او د جرګې اورېدونکي هم په سمه توګه کښېني ، پاسي او د جرګې معاملات په خپلو سترګو ویني. (۱۲)

۵ــ لکه څنګه چې عدالت د ملکي ریاستي ادارو څخه ازاد وي یعني چې د عدالت څۀ خوښه وي ، څۀ رنګ او په کوم ډول د یوې فیصلې پرېکړه کوي څوک هم ترېنه تپوس نۀ شي کولے نو دا رنګ د جرګې په فیصلو کښې دې هم ګوتې وهل نۀ دي پکار بلکې د ځایي انتظامي واکمنو د واکمنۍ او زور څخه دې ازاده وي او خپلې فیصلې او پرېکړې ته دې پرېښوله شي چې د اولس مسلې په سمه توګه حل کړے شي. (۱۳)

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08
ماخذ تحقیقی مجلہ

۶ ـ په عدالتي سیستم کښې د پوهه وکیلانو او ججانو انتخاب شوے وي هغه ځکه چې دوي نه د یوې مسلې شخړې په هواورولو کښې څۀ قسمه غلطۍ ونۀ شي او اولس ته زیان ونۀ رسي نو دا رنګ د جرګې د پاره هم په سیاست پوهه ، د سیمې د کلتور نه خبر ، مفکر علم لرونکي او تعلیم یافته مشرانو ناستې پکار دے ځکه چې د دغو یاد کړے شوي مشرانو ګډون او ناستے به د اولس او د سیمې په ګټه وي. (۱۴)

۷ ـ د عدالت پشان په جرګه کښې هم د دلیل د پاره کوټلي مواد پکار دي چې د هغې په بنیاد د چا شخړه ختمه کړے شي . که د دلیل د پاره مواد پکار رانۀ وستل شي او جرګې د دې نه بغېر د چا په خبرو اترو فیصله واوروله نو د ګټې په ځاے اولس به د توان سره مخ کړي. پکار ده چې د شخړې د هوارولو نه مخکښې مخکښې د دواړو فریقینو سره ناستې وشي او د هغوي په مسله سل فیصده ځانونه پوهه کړے شي پس له هغې جرګه خپله فیصله واوروي. (۱۵)

۸ـ لکه څنګه چې د عدالت هر یوۀ وګړي ته تحفظ ورکړے شوے دے او ګڼ شمېر مراعات هم ورکولے کېږي نو دا رنګ د جرګې مشرانو د پاره هم په باقاعده توګه مراعات او تحفظ ورکول پکار دي ځکه چې دې سره به یو خوا د دوي معاشي صورتحال هم برقرار وي او بل خوا به د اولس نه هم د څۀ قسم عرض لرلو طمع هم ورکه شي نو پرېکړې به یې ټولې مثبتې او د اولس په ګټه وي. (۱۶)

۹ ـ مونږ وینو چې د عدالتي کاروائی نه پس د فریقینو په مینځ کښې د صلحې جوړې فضا قایمه شي او دوي په دې هم په سختۍ سره پابند وي چې د عدالت فیصله ومني او د پرېکړې څخه یې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08



سرغړونه ونهٔ کړي نو دا رنګ د جرګې د پاره هم یو تجویز وړاندې کولے شي چې کله هم جرګه څهٔ فیصله واوروي نور پکار ده چې په هغې باندې په سختی سره عمل هم وکړے شي. (۱۷)

۱۰ـ د عدالتي کاروائی څخه سرغړونه د لوے جرم او سزا مرتکب ګرځولے شي او مختلف قسمه جرمانې او قېد کېدل وغېره سره مخ کېدے شي نو دا رنګ دې د جرګې د فیصلې نه سرغړونه هم یو بد فعل وګڼلے شي او دواړه فریقین دې په دې مجبوره کړے شي چې د جرګې فیصله دې ومنې ، ګنې د جرګې د مشرانو په شا ولاړ اولس به د دوي خلاف خپله د جرګې خوښه کاروائي وکړي. (۱۸)

۱۱ـ په عدالتي کاروائی کښې د هېڅ قسمه غریب یا د مالدار فرق نهٔ شي کولے ، د دوي خانیزم ، جاګیرداری او ناداری ته نهٔ شي کتلے بلکې د عدل او انصاف نه کار اخیستل کېږي چې د دې روایتي کاروائی ګتې زمونږ ستاسو په وړاندې دي نو دا رنګ دې د جرګې مشران هم په دې پوهه کړے شي چې بې له څهٔ ورکړې یا رشوته خپلې فیصلې واوروي او د هېڅ قسمه د مالداری او ناداری تفریق ونهٔ کړي. (۱۹)

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

## حوالې

۱. اریانه دایرة المعارف ، دریم چاپ ، ث د ، د افغانستان د علومو اکاډمی ، ۲۰۱۰، مخ ۶۵
۲. کرګر ، محمد اکبر ، لویه جرګه او لویې پرېکړې ، لندن چاپ ، ۲۰۰۳، مخ ۴
3. Dawar, GHulam Qadir Khan , Cheegha, IAlph swedon, 2014, p88

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-08



٤. عطايي ، محمد ابراهيم ، د پښتني قبيلو اصطلاحي قاموس ، دويم چاپ، د سرحدونو او قبايلو وزارت افغانستان، ٢٠١۵، مخ ٩٧
۵. سنګرمل، سردار محمد ، حقيقت نۀ پټيږي ، کابل چاپ ، ٢٠١١ ، مخ ١٠۴
٦. رښتين ، صديق الله ، پښتني لارښود ، يونيورستي بک ايجنسي پېښور ، ١٩۴٧، مخ ٢١
٧. احسان داوڑ، وزیرستان کا ثقافتی ورثہ، پشاور، دانش کتب خانہ محلہ جنگی، ۲۰۲۲، ص ۱۶۲
٨. اباسين يوسفزے ، جرګه او عدالت ، ويډيو ، فيسبوب پانه ، ١۴ مارچ ٢٠٢١ ماښام څلور بجې
٩. کابل خان ، داوړ ( څايي مشر ) ، انټرويو ، ١١ جنوري ٢٠٢۴، خپله حجره ميرانشاه کلے
١٠. هم دغه
١١. هم دغه
١٢. هم دغه
١٣. هم دغه
١٤. هم دغه
١٥. هم دغه
١٦. هم دغه
١٧. هم دغه
١٨. هم دغه
١٩. هم دغه